## اجرايوي لنډيز

په ۱۳۹۵ کال کې، د افغانستان په اړه د بروکسل کنفرانس څخه دمخه، د افغانستان د اسلامي جمهوريت ولسمشر په اجرااتو کې د روڼتيا څخه د ډاډمنتيا او په ځانګړې توګه د عوايدو د راټولولو د کچې د لوړولو په موخه د افغانستان ټولو عايداتي وزارتونو ته هدايت ورکړ ترڅو د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې خپل پلانونه چمتو کړي. د پنځو عايداتي وزارتونو څخه يو هم د ترانسپورټ وزارت دی.

د اداري فساد په وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کميټه (MEC) د ټولو وزارتونو د فساد ضد پلانونو ارزونه کوي او په دې توګه د ترانسپورټ وزارت د فساد سره د مبارزې پلان د پرمختګ ارزونه خپروي.

دا پلان چې د اداري فساد په وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه کميټې ته وښودل شو د لومړيتوب په درې برخو کې ۲۵ کړنې لري. د اداري فساد سره د مبارزې پلان او د پلان په وړاندې ارزونې لپاره، د څارنې او ارزونې کميټې د تحليل پورې اړونده اسنادو له کتنې سره يوځای ۱۸ مرکې او ګروپي بحثونه ترسره کړل.

## عمومي موندنې

د ترانسپورټ وزارت د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په برخه کې خاص پرمختګ نه دی کړی. اداري فساد عام شوی او وضع بهبود نه مومي.

ياد وزارت د اداري فساد په وړاندې يو داسې پلان لري چې جدي ندي، او د پلان برخې په فعاله توګه تعقيب شوي ندي - يو ډير پياوړي نوي پلان ته اړتيا ده.

د منفي موندنو سره سره، د څارنې او ارزونې کميټې سره د ترانسپورټ وزارت کارکوونکو ښه همکاري کړې ده. ډير کسان د ترانسپورټ وزارت په اجراآتو کې بهبود موندنې ته ليوال وو.

د ترانسپورټ وزارت انوې رهبری ژمنه وکړه چې د فساد په وړاندې مبارزه به خپل لومړنی لومړيتوب وګڼي، تر څو په ټول وزارت کې د فساد سره د مبارزې پلان پلی کړي.

## ځانګړې موندنې

د ترانسپورټ وزارت لخوا د فساد سره د مبارزې پلان پلي کولو په اړه د څارنې او ارزونې کميټې ځانګړې موندنې په لاندې ډول دي:

**1. د فساد په وړاندې د مبارزې يو نوي پلان ته اړتيا ده**

**معلوميږي چې اوسنی پلان د څارنې او ارزونې د خپلواکه کميټې په کټه ليکل شوي او محدود عناصر لري**

**2. د اجرااتو او پروسيجرونو ساده کول او د ټکنالوژۍ په اساس سيستمونو کارول**

د ترانسپورټ وزارت د عوايدو يوې لويې سرچينې په ځمکنيو بندرونو کې ترانسپورټي وسايط دي. بار وړونکو وسايطو باندې د هغوی د بار د وزن په اساس حق العبور وضع کيږي[1]. ستونزه دا ده چې هغه پيسې په شفافه توګه نه راټوليږي چې د وزارت کارکوونکي يې د هغو توکو لپاره په چلوونکيو باندې وضع کوي چې هغوی يې له يو ځای څخه بل ځای ته ليږدوي. د ترانسپورټ وزارت مامورين جعلي تعارفي جوړوي او د ثبت په کتاب کې ناسم کم مبلغ ثبتوي[2]. د ثبت کتاب

[1]- د ترانسپورټ وزارت کارکوونکو سره مرکه، اپريل ۱۹، ۲۰۱۷.
[2]- د لاريو چلونکو سره مرکه، مې ۰۷، ۲۰۱۷.

یوی کمزوری سند دی  چي کابو د اداري فساد لپاره طرح شوی دی. نو ځکه په بندرونو کې د عوایدو راټولولو ټوله پروسه د اداري فساد په وړاندې زیان منونکې ده.

### 3. د بشري سرچینو د ظرفیت لوړونه

په وزارت کې د بشري منابعو ډیر لږ مدیریت شتون لري.

### 4. د قراردادونو په پلي کیدو کې د روڼتیا ساتنه

په دې برخه کې د ټرانسپورټ وزارت  یو څه پرمختګ کړی. د ټرانسپورټ وزارت پریکړه وکړه چې د ۵۰۰،۰۰۰ افغانیو ارزښت څخه پورته قراردادونه په ویب پاڼه کې خپاره کړي. وزارت د اداري فساد ضد خپل پلان کې همدارنګه یادونه کړې چې د ټرانسپورټ وزارت د  یو څه اجاره شویو ملکیتونو اسناد او درې میاشتني راپورونه هم د عامه لاس رسي لپاره په ویب پاڼه کې خپاره کړي.

## سپارښتنې

| کڼه | سپارښتنې |
|---|---|
| 1. | د اداري فساد سره د مبارزې نوی پلان. د ټرانسپورټ وزارت باید د ۲۰۱۸ کال د جنوري تر لومړی نیټې پورې د اداري فساد سره د مبارزې یو نوی او بشپړ پلان چمتو کړي. |
| 2 | د ټرانسپورټ وزارت باید د هرو درېو میاشتو په ترڅ کې د دې نوي پلان په وړاندې د پرمختګ بیا کتنه وکړي، دغه بیا کتنې دی د  ۲۰۱۸ کال له اپریل څخه پیل کړي او پایلې یې باید په خپله ویب پاڼه کې خپرې کړي. د لا زیات باور ترلاسه کولو لپاره، د ټرانسپورټ وزارت کولی شي درې میاشتنی بیاکتنې ترسره کولو لپاره د داخلي تفتیش خپلې څانګې په کارولو یا د یو بهرنی ډلې ګمارلو باندې غور وکړي. |
| 3. | د ټرانسپورټ وزارت باید یو تحلیل وکړي ترڅو د ځمکنیو بندرونو عوایدو اټکلیزه کچه په ډاګه شي - که چیرې فساد شتون نه درلود- او هغوی دا اټکل شوي عواید د نوي الکترونیکي سیستم په واسطه د ترلاسه کیدونکي هدف په توګه وکاروي. |
| 4. | د ټرانسپورټ وزارت نوي رهبري باید د الکترونیکي سیستم (E-system) په پلي کیدو کې ځنډونې تر بیاکتنې لاندې ونیسي او په هر بندر کې د پلي کیدو یو تصحیح شوی پلان چمتو کړي او  هرو درېو میاشتو کې د دې پلان پرمختګ خپور کړي. |
| 5. | د  داخلي تفتیش څانګې   کیفیت باید تشخیص کړای شي او دغه څانګه باید د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان له پرمختګ څخه څارنه ترسره کړي |
| 6. | د ټرانسپورټ وزارت د داخلي تفتیش نوې  څانګه دې له مالیې وزارت سره همغږې وکړي تر څو د خپل مسلکی توب د پیاوړتیا لپاره لارې په ګوته  کړي. |
| 7. | د ټرانسپورټ وزارت باید د بشري منابعو په څانګه  کې  اصلاحات راولي، د کارمندانو مهارتونه او بشپړتیاوې وارزوي او تشکیل تنظیم کړي تر څو اصلاحات پالونکي او صادق  کارمندان تشویق کړي. |
| 8. | د ټرانسپورټ وزارت باید د شکایتونو د ترلاسه کولو او حل لپاره لیکلی پروسیجر طرح او چمتو کړي، په ځانګړې توګه هغه شکایتونه چې اداري فساد پورې تړاو لري. |
| 9. | د ټرانسپورټ وزارت او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسون باید ۱۳۵ تلیفونونو ۲۴ ساعته ځوابولو لپاره کارکوونکي وګماري. |
| 10. | د ټرانسپورټ وزارت باید د ځمکنیو بندرونو د کارکونکو لپاره د هغه الکترونیکي سیستم د کارولو په اړه چې د کابل په ختیځ ځمکني بندر کې نصب شوی، روزنیز پروګرامونه  په لاره واچوي. |

| | |
|---|---|
| د ترانسپورټ وزارت باید د ورځنی حاضری لپاره یا د ګوتو نښي یا د الکترونیکي کارت سیستم وکاروي. | **11.** |
| د ترانسپورټ وزارت د بشري سرچینو ریاست باید د سي بي آر د اصلاحاتو ستراتیژي پلي کړي ترڅو شفافه ګمارنه ډاډمنه کړي. یاد ریاست باید ژر تر ژره هغو بستونو لپاره ګمارنه بشپړه کړي چې اوس مهال د سرپرستانو لخوا اداره کیږي. | **12.** |
| د ترانسپورټ وزارت د بشري سرچینو ریاست باید د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسون او سي بي آر پروګرام سره په همغږۍ کې خپلو کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړوني یو هر اړخیز او بشپړ پلان چمتو او پلی کړي. یادې اداري باید زر تر زره د سرپرست بستونو لپاره ګمارني بشپړې کړي. | **11.** |
| د ترانسپورټ وزارت رهبري باید یو څانګړی ټیم تاسیس کړي چې په دوره یي توګه په بندرونو کې د عوایدو راټولولو مامورینو د اجرااتو څارنه او ارزونه وکړي. دا پروسه باید د کارکوونکو د کړنو له هغې کلنۍ ارزونې جدا ترسره شي، چې د افغانستان د ملکي خدمتونو قانون کې یې یادونه شوې ده. | **13.** |
| د ترانسپورټ وزارت مرکزي دفترونه باید د عوایدو راټولولو خپلو ټولو ولایتي څانګو میاشتني راپورونه ترلاسه او خپاره کړي. | **14.** |
| د ترانسپورټ وزارت باید خپلو ولایتي څانګو ته د انټرنټ لاس رسی چمتو کړي. | **15.** |